مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

څېړنوال دکتور عبدالغفور لېوال ۲۰۲۴/۰۸/۱۹

هر نوی ځکه زوړ دی، چې بل نوی ورپسې راځي.

# موډېرنيزم، پس‌موډېرنيزم

# او

# پښتو شعر

## دريمه او روستۍبرخه

دا شعر- د منظومي ډرامې په توګه - په څلوېښتمو کلونو کې په زيري جريده کې خپور شوی او روسته ښاغلي افضل ټکور د استاد بېنوا په شعري ټولګه « د هسک پېغله» کې رااخيستی دی. دا نو هغه زمانه ده، چې پښتو ازاد شعر لا د لومړنيو تجربو په پړاو کې مزل کاوه. د کلو رنځور په ټول پوره ازاد شعر دی، چې د ځينو ځانګړو رکني واټنونو ترمنځ سجع و قافيه هم لري او وزم يې خورا اهنګين او مترنم دی. د داسي رغښت له نظر ويلای شو، چې د خپلې زماني په اعتبار د فورم له مخې هم نوښت لري. په شعر کې طنز او مضحکه په ډېره هنرمندی ځای کړل شوی. د شعر پيغام تراژيدي ده، خو دغه تراژيدي په کوميدي ژبه بيان شوې ده. سيمبولونه نوي او شخصي دي. د سېمبولونو لپاره ذهني – استدراکي موقعيتونه په خورا بريالی توګه جوړ شوي دي، شعر لکه يوه منظمه سمفوني پيل، اوج او پای لري. دغه شعر تر خپلې زماني پورې هېڅ هغه موتيف نه تکراروي، چې ښايي د منځپانګې او رغښت دواړو له پلوه تر دې وخته دود ول.

د کلو رنځور پر خپل مهال ډېري دروغجنې هيندارې ماتې کړې، چې زموږ ګډې تاريخي حافظې ته يې څېرې ناسمې راښوولې. ډېر نقابونه يې وغورځول او تر ټولو مهم دا، چې پېغلو او زلمو ته يې د هنري پاڅون جرئت ورکړ.
هغوی، چې له شعر و هنر څخه د عاج په برج کې کېناستل غواړي، ښايي له دې انقلابي شعر سره په دې جوړ نه وي، چې يو مهندسي شوی پيغام لېږدوي. دا د هنريت او التزام ببل بحث دی، چې اوس نه پرې ورګډېږو، دلته مو کيسه د موډېرني پښتو شاعری ده، چې له ديواني هغې سره د نوي او پس موډېرني شاعری برید ټاکي او دا شعرو عاموي، چې شاعري بل ډول هم کېږي. د نوي ارواپوهنې له مخې شعر زموږ له ګډې / قومي ځانناخبرې څخه سرچينه اخلي. کله چې وايو، (ګډه – قومي يا تاريخي) دلته نو د هنري رسالت او التزام اصل بيخي ببله مانا ښندي او د عاج د مانۍ کره کتونکي يې شاعرانه منطق ته سر کوزوي.

د موډېرني شاعری د تجربو لړی همداسي پسې د استاد بهاءالدين مجروح له انقلابي شعر « د وطن مور» سره راغځېږي. د استاد مجروح «ځانځاني ښامار» هم د موډېرن ادب يوه غوره او شاهکاره بېلګه ده، چې ځانګړی بحث غواړي، خو د « ناآشنا سندرې» په ټولګه کې د کونړ سيند او د وطن مور له هره اړخه زموږ د زماني د موډېرنيسم بريالی بېلګې دي:

زمانه شوله آخره
عجيبه خبرې اورم
د وطن مورته چا داسي ووېلې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په څير و لولئ

***

لاروی
ای د وطن موري!
په ما ګراني په زړه پوري
زار قربان دی د میرو شه
د سپیرو شړو دشتو شه
خو لعنت دی په بچو شه!
***

ای دوطن موري په ما ګراني
نن اختر دی، بختور دی
دا کمیس دی پرون تور وو
نن هم تور دی
خړ پرتوګ دی خیرې خیرې
نوی نه شو،
خو اختر دی مبارک شه
ګراني موری!

د سراج الاخبار له زماني څخه، چي د افغانستان د نومهاليو ادبياتو زمانه راپيليږي، د ادبي کره کتونکيو له نظره د وينبتيا او روښانتيا په پړاوونو کې نوي مفاهيم لکه وطندوستي، ملتپالنه، خپلواکي، معارف، پرمختګ، تکنالوژي او ژوند ته پام اړونه راڅرګنديږي. د استاد مجروح تر دغه شعر پورې ځيني مفاهيمو ته په لوی لاس تقدس ورکول کېده، خو استاد مجروح په پنځوسمو کلونو کې د دغه شعر په ليکلو پاڅون کوي:

« خو لعنت دي په بچو شه!»

استاد مجروح زموږ دروغجنه وطنپرستي تر پوښتني لاندې راولي. هغه په زغرده وايي، چي که موږ رينښتيا وطنپرستان وای، نو د وطن به مو دا حال نه وای. د وطن د مور پرتوګ به داسي زوړ او شلېدلای نه وای.

اي دوطن موري ښه دی، ښه دی
چي پرتوګ دي خړبخن دی
خيرې، خيرې د هيچا نه په کاريږي، نه خرڅيږي
ځکه ستا بچي ډېر زښته نارينه دي
خرڅوي د مور پرتوګ هم

د دغه شعر سېمبولونه ټول نوي، شخصي او ابتکاري دي. د وطن د مور يو مېړه دی، چي په بېلابېلو څېرو کې راڅرګنديږي، د وطن بچي خپله مور هره ورځ يوه نوي مېړه ته ورودوي.

د وطن مور شعر بيخي زياتي استعارې او قراردادي سېمبولونه مسخره کوي، په مضحکي پسي مضحکه او په تريخ طنز پسي لا تريخ طنز.

موږ چي ټول عمر باتې وهلي : زه يم زمری ... لکه شاهين په لوړو الوځم.... لکه باز، لکه عقاب، لکه... خو هيڅکله نه وايو : لکه انسان او لکه يو هوښيار انسان.

دا استعارې چي ناموسي شوې او حيثيتي شوې وې، د لومړي ځل لپاره د استاد مجروح په دې شعر کې ماتيږي او زموږ ګډي تاريخي حافظې ته ټکان ورکوي:

اې دوطن موري ستا بچې ښنګه بچي دی؟
انسان نه دی
دی پخپله هم هيڅکله
ځانته نه وايي «انسان» يم
کله وايي «زه مرغه يم» بيا پيښني کړي د مرغانو
کله وايي «ځناور» يم په څلورو شي روان بيا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

***
اې د وطن موري ستا بچي خو انسان نه دی
راته ووايه خپل راز اوس
تاراوړی دی له کومه؟
له کوم اصله، له کوم ذاته، له کوم نسله؟...
ستا بچي وايي «ځناوريم»
خو باچا د ځناورو
زه یم زمري په دې نړی ترما اتل نشته
بل په کابل نشته، بل په زابل نشته
په رښتيا چې ځناور دی خو، باچا د ځناورو
بېکسانو، بېوزلانو ته شين پړانګ دی
غوښې خوري د کونډو رونډو يتيمانو
ماتوي وړور او تربور خپل
چې زور زيات وربانډې برشي
نو،
ګيدړ شي چل وتی کړي
ځغلوي د کور چرګان بيا

ترپايه

د استاد مجروح دغه شعر په خپله زمانه کې د سياسي چاپيريال له سيوري رانيولې، تر ادبي فورمونو، حاکمو باورونو، ژبې او رغښت پورې هرڅه ماتوي، د طنز اغراق لري او له نورو متونو سره ګډون تجربه کوي. د متني ګډون يوه بريالی بېلګه ده، چې ښايي لوستونکی به ورته متوجه شوی وي. ځينې متون په عامه ذهنيت کې د حک شويو باورونو کرښې هم دي، چې دا شعر يې په بشپړه رندی ماتوي.

تر دوی رادېخوا بيا د پښتو شعر د پسموډېرنيزم اوج اروښاد اسحاق ننګيال په شعرونو کې وينو:

## بيديا

سپيره بيديا ده په کې پل د بنيادم نشته
يو څو پيريان دي له پرديو غرو را غلي
بربنډپړي، ناڅي، ناڅي
چې تياره شي بيا سيني پر خپلو ميندو سروي
پر خواږه خوب پريوځي
***
د زهرو ونه ده ولاړه
پر بيزو ادي يې سيوري کړی
بيزو د زهرو پرګې خوري هره ګړی ورځنې حمل اخلي
د ورځې دېرش، څلوېښت بچيان زيږوي
د ورځې دېرش، څلويښت ځوانان شي
بيا قتليږي
خو بيزو ادي پرګې خوري
او لګيا ده هره ورځ نوي بچيان زيږوي
پيريان ګډيږي
د بيزو ادي په ويره او پر خواريو خاندي
چې شپه تياره شي
بيا سيني پر خپلو ميندو سروي
پر خواږه خوب پريوځي
سپيره بيديا ده په کې پل د بنيادم نشته



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

د اروابناد ننګیال شاعري د متني ګډون Intertextuality یا د متونو تداخل (بینامتنیت) له نظره د یوه مجرب شاعر پنځوونې دي. هغه ابهام چې لوستونکی یې د پرانیستو په کار کې له شاعر سره مشارکت ته هڅول کیږي، د یوه موډېرن مېتود په توګه د دغه شاعر په شعر کې له ورایه لیدلی شو:

## مړوند

مړوند یو خوب، مړوند سترګیا نه لري
مړوند دغره دابې پې رودلي
+++
تادسکندر کله ژړا لیدلې ؟
یو سپین مړوند پرې د سرو تورو ګوزارونه کوي
یو سپین مړوند یې د غرور د اسو یال رېبلې
+++
سکندر له لیرې لارو راغی د پیلانو له سروتېر شوی
سکندر د پارو پامیزاد دښاپیریو شنه خوبونه وینې
یوسپین مړوند ورته جګړې ته وتی
ورباندې تندر د مړوند ووری
خو،   اې دسپین مړوند (( روښانې)) پیغلې
تورې په ورو
تورې په پام وروه
سکندر په تورې هغه سپینه ډوډۍ نیمه کړله
نقاب دې سپین مړوند ته اور واچاوه .

د دغه شعر د درک لپاره تاسو باید ګڼ نور متون وګورئ، د یوناني / مکدوني الکساندر او ساکۍ روښاني د مخامختیا کیسه او دا چې د روښاني له مخ څخه څنګه د جګړې پرمهال نقاب ولوېد او الکساندر پرې مېین شو. لوستونکی باید دې ته هم ځان ورسوي، چې د الکساندر او ساکۍ روښاني د واده تړون د یوې ډوډۍ په پرې کولو وشو، الکساندر دا ډوډۍ په خپله توره نیمه کړه.

اسحاق ننګیال د سیال ذهن شاعر دی، د معاصرې پښتو شاعرۍ رغښت یې بدل کړی، ژبه یې ورنوې کړې ده، د پس موډېرني شاعرۍ ګڼي ځانګړني یې په شعوري بڼه په شعر کې لیدلای شو، یوازې څه چې په کې لږ ښکاري د استاد بېنوا او استاد مجروح په شان د پارودي، مضحکې یا له مبالغې ډک طنز کمښت دی. هغه څه چې په تېرو یادو درېیو شاعرانو کې تر هرڅا زیات د استاد مجروح د «وطن مور» په شعر کې یې وینو. ننګیال د صلابت شاعري کوي او شهودي سرچینه یې  د  یوې غمجنې (تراژیکي) ناخوداګاه په سمڅو کې ده. په ځینو شعرونو کې یې د پارودي مالګه یوڅه شته، خو داسې چې دود بنستونه ولړزولای شي نه ده.

د موډېرنیزم یوه ځانګړنه د هرراز سانسور ماتول دي. ذهني سانسور او ان قرارداد شوي تابوګان، چې که مات نه شي نو بنایي مورږ نوي تفکر او بیا د هغه بیان ته په هیڅ زمانه کې پرېنه‌بردي، ان که ټولنه مو تر موډېرنېتې هم اوښتې وي.

د داسې تطبیقي – انتقادي مېتود له مخې که تر ننګیال راروسته پښتو شاعري وارزوو، نورمحمد لاهو، ومان نیازی، فرید باراني او څه نور نومونه مخې ته راځي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ